# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |


بســــــــــــمل

۲۱ جنوری ۲۰۱۳



# قلموال زرملوال هم کړې سترګې پټې

نن مې چې انترنیت پرانیست په یوه ویبپاڼه کې مې دغه لاندې دردوونکی خبر ترسترګو شو:

«دافغانستان وتلی لیکوال اوژورنالیست غلام محمد زرملوال په حق ورسېد»

انا لله وانا الیه راجعون

دپورتني تریخ خبرله امله مې دنن ورځې شین ســهاردشنه اســمان اوسپینو واوروله ښکلاګانوسره په یوغمګین غباراوګردله راته بدل شوهو!

زرملوال صاحب سترګې پټې کړې اومونږ یې یوازې پرېښودو:

هغه زرملوال صاحب چې دقلم برېښنابه یې دغلیم په ځګرغشي ورول، هغه زرملوال صاحب چې دسترګو په اړولو سره به یې دغلیم پښې لړزولې، هغه زرملوال صاحب چې قلــم یې یوازې دخوب په مهال په ګوتوکې نه لیدل کېده اوهغه زرملوال صاحب چې څه موده مخکې یې ماته ډاډېښونکې خبرې کولې.

دزرملوال صاحب په مړینه مونږدسرو زرو خزانه له لاسه ورکړه سپین ږیرو په تېره بیاقلموالوسپین ږیرواوتجربه لرونکوسپین ږیرو ته ما هروخت دسرو زرو خطاب کړی دی.

کله چې له یادوسپین ږیروسره مخامخ شم سترګې مې بلې خواته ورځخه نه اوړي تراخېره یې ارزښــتناکې خبرې دزړه په غوږو اورم او ځیر ځیر ورته ګورم.

مابه چې کوم وخت له زرملـوال صاحب سره تلیفوني اړیکه ونیوه یابه هغه کوم وخت تلیفون راته وکړنومجلس به مواوږد شوهغه به خبرې کولې زه به ورته غوږ غوږ وم یووخت به یې غږ راته وکړ چې وه دنښـــترباچاویده خوبه نه یې؟

مابه ورته وخندل چي نه صاحب ستاسوخبرو ته مي غوږ نيولی هغه به وويل چي نو ښه ښه خو راته کوه چي زه پوه شم ته ويده نه يې.

مابه ورته وويل چي کله ستاسودخبروعمق ته ورتيېښ شم نوښه ښه پاس په سطحــه راځخه پاته شي هغه به وخندل ويل ته غواړې هرڅه له ما واورې او ته يوازې غوږ راته ونيسې.

مابه ورته وويل زرملوال صاحب زه خوځه نه لرم چي تاسوته په کارشي خزانه خوله تاسوسره ده بيابه يې په داسې حال کې په کټ کټ وخندل چي دسيني شغااونفس تنګي به يې سخت زور راکړ.

وروبه مې ورته  وويل چي زرملوال صاحب تاسولړ  څه دمــــه وکړئ اوس به زه يوڅوپوښتني تاسوته وړاندې کړم هيله ده ما ته لاربښوونه وکړئ وېل مهرباني:

مابه دخپلوليکنوپه اړوندمشـــوره ورڅخه غوښته هغه زماپه ليکنوځای ځای نيوکي لرلي خواکثرأيي خوښولي البته دنيوکوپه اړه به مي چي خپل دليل اوثبوت ورته وړاندې کړبيابه يې خپله نيوکه بېرته اخيســـته هغه يوقانع  اومفتکر انسان و.

زرملوال صاحب ډېر څه رازده کړي دي هغه به ماته کله دځوان اوکله دښنترباچاخطاب کاوه ديادولوده کله چي زه دالله تعـالی په مرسته اوپه لويه پکتياکي زموږ دفرهنګي ملګروپه همغږي دښنــتردوديزې اوکلنی مشاعرې په دودولوبرياليی شوم زرملوال صاحب له هغه وخت څخه وروسته وپيژندلم او ډېرزيات يې تشويق کړم .

دښنـــتر په لمړئ مشاعره کي دزرملوال صاحب ددرني کورنی غړو  هم ګډون درلود اومالي مرسته يې هم په لويه پکتيا کي زموږ له فرهنګي ملګرو سره کړې وه کور يې ودان.

دزرملوال صاحب ناروغي اوږده ناروغي وه هره ورځ به يې درمل خوړل خويوه ورځ يې هم په چاځان ونه نازاوه.

زرملوال صاحب ټينګ عظم درلوددليکنواوژباړوزمری ودهغه له کتابونوڅخه به يوڅوک ډېرڅه ترلاسه کړي خو په مخامخ خبرواو رمزي غوټوکي يې بيا لازيات لال اوجواهر پراته وو.

مابه په مينه دزرملوال صاحب ليکني لوستلي دښنتر اوسولي په ويبلاګونوکي به مي هم خپرولي .

درئ کاله مخکي يې ماته وويل زه په يوڅه لګيايم هيله ده له ماسره مرسته وکړې ماورته وويل  زرملـوال صاحب امر وکړئ  ولي نه هيله نه چي وظيفه به يې وګنم.

وېل که څوک پيژني اوپه کونړکي دکيراړې دپيښې رښتيني مالومات ورڅخه ترلاسه کړې ترڅو زه خپل پروګرام ددقيقومالوماتوپه بنيادپوره کړم ماوېل په سترګوولي نه.

بيامي داسې څوک پيداکړچي دکيراړې دپيښې په وخت کې يې هلته رسمي دنــده درلوده اودپيښې په اړونديې  پوره مالومات لرل.

کله مي چي هغه جريان زرملوال صاحب ته وويل هغه مننــه وکړه بيايې له نوروملالوماتوسره زما مالومات يوځای کړل داچي هغه کارياپروګرام څه اوترکومه ځايه يې ورساوه نه پوهېږم  په دې هم نه پوهېدم چي محـترم زرملــوال صاحب به دومره ژر زمايا زموږ دهيلوبڼ تندې ته پرېږدي.

درنو لوستونکو!

نوردليکني وس نه لرم سترګي مي تراوښکولاندې شوي هيله ده ماوبخښئ اوهيـله ده په ګډه دخپلومشرانوپالنه او درناوی وکړو.

**يوپه بل پسـې رالوېږي زموږ ستوري**

**خدايه راکړې نجات سوځوله هرلوري**

**دزرمـت ځراغ دې هم له مـوږه وپور**

**لر اوبربـــه اوس دچاپه طرف گوري**

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/19391

زرملوال صاحب ته دې الله (ج)جنتونه ورپه برخه کړي

۲۰۱۳-۰۱-۲۰